د افغانستان اسلامی امــارت
د کانونو او پټرولـیم وزارت



## د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۴۶

نیټه: ۱۴/لړم/۱۴۰۱

# د کانونو او پټرولیم، مالیې وزارت او ښاروالۍ تر منځ درې اړخیزه ناسته

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) په مشرۍ د (400000) څلور سوه زره ټنه ډبرو سکرو کابل ته د انتقال پروسې په اړه د دوشنبې ورځ ۱۴۰۱/۸/۹ نېټه د یاد وزارت د غونډو په تالار کې ناسته تر سره شوه.
په دغه ناسته کې د مالیې وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي حمدالله زاهد، د کابل ښاروالۍ د ښاري خدمتونو مرستیال مولوي محمد خالد (سجستاني)، د یاد وزارت مرستیالانو، رئیسانو او داوطلب شرکتونو رئیسانو ګډون درلوده.
یاده غونډه د ډبرو سکرو د انتقال، د خرڅلاو لپاره د ساحو غوره کول او د شرکتونو لپاره د خالص مفاد د ټاکلو لپاره جوړه شوې وه، چې په پایله کې د (400000) څلور سوه زره ډبرو سکرو انتقال (8) اته داوطلب شرکتونه چې په ګډه سره به کار کوي ور وسپارل شو. همدا راز د یادو شرکتونو لپاره خالص مفاد 150 افغانۍ وټاکل شو. د نوموړو ډبرو سکرو د پلور لپاره به د کابل ښاروالۍ له لوري د کابل په ټولو ناحیو کې 32 سیمې وټاکل شي، چې د کانونو او پټرولیم وزارت د مشرتابه او داوطلب شرکتونو له لوري تائید شوي دي.





# د تخار ولایت د مالګي کانونو داوطلبي تر سره شوه



د تخار ولایت نمک آب ولسوالی د تاقچه خانه سیمی B,A او C بلاکونو او د کلفګان ولسوالی د ارچه کوتل سمیې مالګې کانونو داوطلبي چهارشنبه ۱۴۰۱/۸/۱۱ نیټه د یاد وزارت په مقام کې په شفافه توګه تر سره شوه.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د یادي ساحي مالګي کانونه مخکي اعلان ته سپارلي وو، چي د یادو کانونو دواطلبی نن د یاد وزارت د مرستیالانو، رئیسانو، موظف هیئت او 24 هغو شرکتونو په شتونو کی چي د پروپوزلونو په ارزونه کي د داوطلبی شرایط پوره کړي تر سره شوه.

په دغه داوطلبی کي د کلفګان ولسوالی ارچه کوتل مالګي کان د مطمین نادري د کانونو استخراج شرکت د رویالټي په قیمت سره په 3100 افغانیو په ارزښت، د A بلاک مالګي کان د آغا ولي پوپل استخراج شرکت د رویالټي په قیمت سره د 3580 افغاني په ارزښت، د B بلاک مالګي کان د ساحل شرق میانه شرکت د رویالټي په قیمت د 3410 افغانیو په ارزښت او د تخار ولایت نمک آب ولسوالی د تاقچه خانه سیمي C بلاک مالګي کان د مطمین نادري کانونو استخراج شرکت د رویالټي په قیمت سره د 1122 افغانیو په ارزښت ګټونکي اعلان کړل.



# د کانونو او پټرولیم وزارت د ولایتونو رئیسانو ته د روزنیز پروګرام جوړول





یکشنبه د ۱۴۰۱/۸/۸ نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت د کنفرانسونو په تالار کې د یاد وزارت ولایتي رئیسانو لپاره پنځه ورځنی روزنیز پروګرام د یاد وزارت سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، تخنیکي مرستیال انجنیر وحید الله (حلیمي)، مالي او اداري مرستیال مولوي حسام الدین (صابري)، جیولوجي سروې مرستیال انجنیر نورالله (ستانکزی) او د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد ضیاء خاکسار په ګډون تر سره شو.

د نوموړي روزنیز پروګرام په پیل کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور رئیسانو او مېلمنو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې د افغانستان کانونه یو الهي امانت او بیت المال ده . دا زموږ د هر یو دنده ده، چې د دې امانت ساتنه په صادقانه توګه وکړو او زما هیله همدا ده، چې تاسو د کانونو قانوني مراحل د قانون په رڼا او په پوره ایمانداری سره وڅارئ.

همدا راز شیخ صاحب زیاته کړه، چې یاد پروګرام یو ښوونیز پروګرام دی، چې د وزارت ټولې کاري څانګې پکې شاملې دي. نو هڅه وکړئ، چې له دې فرصت څخه په ښه توګه ګټه پورته کړئ تر څو په ټولو کاري برخو کې په پوره اخلاص ترې ګټه واخلئ او په پلي کولو کې یې کوښښ وکړئ.


د دغه پنځه ورځني پروګرام په لومړۍ ورځ د پلان او راپور ورکولو رئیس ښاغلي حارث برومند له لوري د پلان جوړونې او راپور ورکولو پرزنتیشن وړاندې کړل شو او ورپسې بیا د قوانینو او مقرراتو، عوایدو، مالي او محاسبې، کادستر، د کانونو قرارداد او د جیولوجي سروې په برخو کې د اړوندو رئیسانو له لوري د ولایتونو د کانونو رئیسانو ته معلومات وړاندې شول.





وزارت اوونیزه
کانونو او پټرولیم

# د بغلان ولايت کاني ظواهر




بغلان ولایت د افغانستان یو له شمال ختیځو ولایتونو څخه دی چې مرکز یې د پلخمري ښار دی. چې ختیځ لور ته یې تخار او پنجشیر ولایتونه، لویدیځ لور ته یې سمنګان او بامیان ولایتونه، شمال ته یې تخار او کندز او د سویل له لوري پروان او پنجشیر سره پوخای کیږي .


د احصایي او معلوماتو د ملي اداري د کلني اټکل له مخې د دغه ولایت ټول نفوس شاوخوا (1،014،634) تنه دی.

د افغانستان د جیولوژیکي سروې او د کانونو وزارت اروندې څانګې له خوا د ترسره شویو سروې کانو له مخې دغه ولایت بې شمېره معدني ظواهر او کانونه لري، چې له هغې جملې څخه اوسپنه په زیرک، مس په کوزغیل او تنګي اشپشته کې، المونیم په استونه او نلک کې، مولبدین په تند دره کې، تالک په دهنه غوري کې، ګچ په دود کش کې، سرب په جلګه کې، سکاره په دود کش او کرکر کې او ګل های ناسوز په نلک سیمه کې موقعیت لري.



# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه










د کانونو او پټرولیم وزارت په یوه اونۍ کې د 1401 کال د میزان میاشتې له ۲۸ نېټې څخه د عقرب تر ۴ نېټې پورې (319،660،491) درې سوه نولس میلیونه، شپږ سوه شپېته زره او څلور سوه یو نوي افغانۍ او (70،460) اویا زره او څلور سوه شپېته امریکایي ډالر عواید راټول کړي دي.

**مسوول مدیر:**
**محمد فرهاد**
**(عبیدي)**

**د امتیاز خاوند:**
**د کانونو او**
**پټرولیم وزارت**

**ترتیب او تنظیم :**
**استاد نجیب الله**
**(رحیمي)**

**طرح او دیزاین:**
**محمد فرهاد (عبیدي)**
**او مطیع الله (سحر)**


ادرس: عبدالحق څلورلاري، کابل، افغانستان    د اړیکو شمیره: 93202304455+    الکترونیکي پته: www.momp.gov.af

ایمیل ادرس: PR@momp.govaf